# پایښتونکي اقتصادي پراختیا او کارجوړونه

## پایښتونکي اقتصادي پراختیا او کارجوړونه

د *پایښتونکي اقتصادي پراختیا او کارجوړونې* د لومړیتوب په ډګر کې د اقداماتو مهمه موخه داده چې د هیواد د طبیعي سرچینو د پایښتونکي کارونې او ساتنې سره د افغانانو لپاره د استخدام او عاید دوامداره او ګټور فرصتونه رامینځته کړي. د دې موخې د ترلاسه کولو، او په همدې توګه په اوږدمهال ډول د خلکو د ژوند شرایطو ته د سمون ورکولو لپاره، د المان حکومت د روزنې او ظرفیت د پراختیا فرصتونو لاسرسی ته وده ورکوي، اړینې زیربناوې پراخوي او د ارزښت د مهمو ځنځیرونو څخه ملاتړ کوي.

ځرنګه چې د افغانستان د کرنې سکتور د هیواد اکثریتو خلکو ته کار برابروي، خو تر اوسه پورې یې یوازې د تولید ټیټې کچې او د ارزښت لوړولو لږ شمیر لړۍ یې په لاس راوړې دي، د المان حکومت د دې سکتور لپاره موخه ایز ملاتړ برابروي. د بیلګې په توګه د اوبولګولو د بیخبنا د سمون ورکولو، د تولیداتو د چمتو کولو او د هغو بازارموندنې له لارې د المان حکومت د کرنې د ارزښت د ټاکل شویو ځنځیرونو څخه چې د وارداتو د ځای نیولو ظرفیت ولري ملاتړ کوي لکه د غنمو، چرګانو او مغزلرونکو محصولات، ترڅو بهرنیو تولیداتو ته د اړوندتیا کچه را ټیټه شي.

د نوموړو اقداماتو د پلی کولو په لاره کې د آلمان حکومت د افغانستان د طبیعی سرچینو په خوندیتوب ټینګار کوی چې د څو لسیزو شخړې جګړې نه وروسته ورځنې په پایښتونکي توګه مدیریت ندی شوی. نن ورځ، د بیلګې په توګه، د هیواد د خاورې یوازې شاوخوا دوه تر درې سلنه ځنګلونه دي چې د خاورې د توریدنی او خرابیدو لامل کیږی او خلکو معیشت ته خطر پیښوي. له دې کبله د تولنو سره یو ځای هڅې رواني دي چې د هیواد پاتې طبیعي سرچینې خوندي شي او داسې اقدامونه ترسره شي چې د ځنګلونو سیمی بیاروغول شي.

د المان حکومت د کارجوړونې او عاید د پایښتونکي او ګټورو فرصتونو د منځته راوړلو په موخه د کوچنیو او منځنیو شرکتونو څخه د میکروفاینانس د محصولاتو او د پور د تضمیناتو له لارې هم ملاتړ کوي. په عین حال کې، د مسلکي روزنې د کیفیت د کچې د لوړولو او د کار بازار د اړتیاوو سره د دې روزنې د سمون ورکولو د هڅو څخه د ظرفیت جوړونې او بیخبنايي اقداماتو په کولو سره ملاتړ کوي او په دې توګه د زده کوونکو د عاید فرصتونو ته سمون وربښي.

## د پروژې خبرونه

- په څلورو ولایتونو کې د استاد – شاګردی پنځه ښوونځي بیا ورغول شول (https://www.ez-afghanistan.de/ps/news/4344) 14.08.1398 I خبرپاڼه
- د موضوع عنوان آزمایښتي پروژه: په کابل او مزار شریف کې ۸۰ کسبګرو لپاره پرمختللي روزنه (https://www.ez-afghanistan.de/ps/news/4199) 05.06.1398 I خبرپاڼه
- استاد شاګردي: ښوونکي او زده کونکي د مسلکي روزنې د اصلاح په موخه سره راټول شول (https://www.ez-afghanistan.de/ps/news/4181) 29.05.1398 I خبرپاڼه

## اضافي معلومات

- Fact sheet: Strengthen sustainable economic growth in northern Afghanistan (https://www.ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-Nawi-d-7_Pashto.pdf)
- Business Monitor 2016 (https://www.ez-afghanistan.de/sites/default/files/2016.12.31%20Business%20Climate%20Report%202016%20English%20Version.pdf)
- Factsheet: Infrastructural

Expansion Helps to Create Livelihoods in the North (https://www.ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-Infrastruktur-d-7_Pashto_0.pdf)

- Fact sheet: Supporting Vocational Training (https://www.ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-TVET-d-7_Pashto.pdf)

لاډیر معلومات د *پایښتونکې اقتصادي پراختیا او کارجوړونې* د لومړیتوب په هکر کې کولای شی د پروژې په توضیحاتو او د «کیسو» په برخه کې په لاس راوړی.

## زمونږ کار پدی برخه کي

**د افغانستان په شمال کې د پایښتونکي اقتصادي ودې ټینګښت**

د دې لپاره چې پایښتونکي اقتصادي وده تحریک شي، د افغاني کروندو محصولات زیات شي او کارموندنه پیاوړې شي، د المان حکومت د افغانستان په شمالي سیمو کې د اقتصادي پروګرامونو څخه ملاتړ کوي.
(https://www.ez-afghanistan.de/ps/news/1743)



**بیخبنايي پراختیا په شمال کې د معیشتونو د منځته راتللو سره مرسته کوي**

د المان حکومت د افغانستان په شمال کې د بیخبنايي اقدامونو ملاتړ کوي تر څو اوسیدونکي وکولای شي سوداګریزو، اداري، روغتیایي څرانې او د معارف خدمتونو او فرصتونو ته لاسرسی پیداکړي.
(https://www.ez-afghanistan.de/ps/news/2201)

**د مسلکي زده کړو وده او د ځوانانو د وزګارتیا پرضد مبارزه**

دد لپاره چې د خپلو پارټنرانو سره یوځای په افغانستان کې د مسلکي ښوونځیو یو اوږدمهال سیستم منځته راوړو چې د حکومت او ټولنې د منلو وړ وي، د المان فدرالی حکومت په هیواد کې د خپل افغاني شریک څخه ملاتړ کوي چې د مسلکي ښوونځیو ښوونکي وروزي او د مسلې زده کړو شرایط منځته راوړي یا هغوی ته سمون ورکړي.
(https://www.ez-afghanistan.de/ps/news/190)